السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# داسې مه وایئ چې: څه چې الله او فلانی وغواړي هغه کیږي، بلکې ووایئ: څه چې الله وغواړي او بیا یې فلانی وغواړي هغه کیږي

له حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «داسې مه وایئ چې: څه چې الله او فلانی وغواړي هغه کیږي، بلکې ووایئ: څه چې الله وغواړي او بیا یې فلانی وغواړي هغه کیږي».

[د ټولو روایتونو په اعتبار صحیح دی] [ابو داود او النسائي په الکبری کې او احمد روایت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې منع فرمایلي دي چې یو مسلمان په خپلو خبرو کې ووایي چې: «هغه څه چې الله وغواړي او فلانی یې وغواړي هغه کیږي». یا دا چې: څه چې الله او فلانی وغواړي هغه کیږي؛ ځکه چې د الله تعالی خوښه (مشیئت) او اراده یې مطلقه ده، هېڅوک ورسره په کې شریک نه دی. او په عطف کې د (واو) توري له کارولو څخه داسې انګېرل کیږی چې له الله تعالی سره دې بل څوک شریک او برابر وي. بلکې وایي به: څه چې الله وغواړي، بیا یې فلانی وغواړي هغه کیږي، نو پدې سره به د بنده خوښه د الله جل جلاله د خوښې تابع وګرځوي چې د (او) پر ځای د (بیا) کلمه وکاروي، ځکه بیا د وریسې معنا ورکوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3352